دویمه کچه

# قاهر او د هغه سپی

education above all
التعليم فوق الجميع



**ليکوال:** بيتيلهيم والټينيګوس
**انځورګر:** برائن وامبي

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



ډېره موده پخوا، يو ماشوم و
چې قاهر نومېدو. هغه په
خپل ټولګي کې اول نمره شو او
مور او پلار يې ورباندې وياړ
کاوه. خو قاهر ارمان درلوده
چې کاشکې هغه د لوبو کولو
لپاره يو ورور، يوه خور يا يوه
اهلي حيوان درلوده.



يوه ورځ هغه له خپلې مور څخه پوښتنه وکړه، ”آیا زه بیرون لوبې کولای شم؟ ما ټول سهار درس ویلی دی او زه اوس له خپلو ملګرو سره لوبېدل غواړم.“ مور یې ځواب ورکړ، ”سمه ده! ولاړ شه، خو ځنډېږه مه!“



د لوبغالي پر لور پر لار،
قاهر يو ناآشنا شی ولید. دا
يو کوچنی سپی و چې سپينې
او خړې پټې يې درلودې.
سپی په يوه سوري کې نښتی
و او هغه ډارېدلی و.
"اندېښنه مه کوه، زه تا ته
ضرر نه رسوم. زه به تا سره
مرسته وکړم." قاهر وويل.



قاهر، سپي سره له سوري څخه په وتلو کې مرسته وکړه. هغه په خوشحالۍ په غپا شو او د هلک ګېرچاپېره په نڅا شو او هغه يې په ژبه څټلو. ”ته به زما سپی شې،“ قاهر په خوشحالۍ سره وويل په داسې حال کې چې هغوی د لوبغالي پر لور خپل تګ ته ادامه ورکړه.




سپی په منډه منډه ډېره مخکې ولاړ. کله چې د قاهر ملګرو سپی ولید چې د هغوی پر لور په منډه روان و، هغوی وویل، ”ممکن دا سپی خطرناکه وي. ښايي مونږ وخوري.“ هغوی ډبرې راواخیستې او کوچنی سپی یې وربانديې وویشت.

قاهر په منډه منډه روان و او خپلو ملګرو ته یې چیغې وهلې چې مه کوئ.




ملګرو د قاهر غږ وا نه ورېد. کوچني سپي د خپل ژوند د ژغورلو لپاره د امکان تر بریده چټکه منډه ووهله. بیا هغه له هلکانو څخه چې دی یې په منډه کړی و، پټ شو. هغوی و نه کړای شول چې سپی پیدا کړي.



د قاهر ملګري بېرته لوبغالي ته ستانه شول او هلته يې قاهر وليد چې ژړل يې. ”څه ستونزه ده؟“ يو ملګري پوښتنه وکړه. ”تاسې زما سپي پسې منډې وهلې!“ قاهر په ژړا کې وويل. هغوی ټکان وخوړ او ويې ويل، ”مونږ خبر نه وو چې هغه ستا سپی و. مونږ بخښنه غواړو. راځه چې پيدا يې کړو.“



”اوس ګټه نه کوي. مونږ به هيڅ کله زما سپي پيدا نه کړو.“ قاهر په نهيلۍ سره وويل. ”هو، مونږ به يې پيدا کوو. قاهره پاڅه، مونږ به ستا سپي پيدا کوو. مونږ بايد نهيلي نه شو،“ هغه ملګرو، چې ده ته يې تسلي ورکوله، وويل.



قاهر او ملګرو يې ټول ماسپښين د سپي په لټولو کې تېر کړ تر څو چې هغوی ستړې شول. بالاخره، قاهر وويل، ”بس يو ځای کېدای شي چېرته چې سپی به وي. که مونږ يې هلته پيدا نه کړو، زه به لټول پرېږدم. راځئ چې سيند ته لاړ شو.“



کله چې سپي هلکان ولیدل چې
د هغه پر لور روان دي، هغه
وډار شو. هغه له سیند نه د
اوړېده هڅه وکړه خو هغه له
اوبو څخه ډارېدو. نږدې و چې
هغه سیند ته ودانګي، چې د
قاهر غږ يې تر غوږو شو، ”مه
کوه، ټوپ و نه کړې!“



سپی راوګرځېد، سترګې يې په قاهر ولګېدې او په منډه يې ځآن ورته ورسولو. قاهر له سپي غېږه تاوه کړه او سپی د قاهر مخ په څټلو شو. ”زما ملګريه! ما فکر کاوه چې ته د تل لپاره ولاړې!“ قاهر په ژړا کې وويل.



بېرته په لوبغالي کې، قاهر خپلو ملګرو ته يو څو نصيحتونه وکړل. "مخکې له دې چې تاسې پرېکړې وکړئ، په دې اړه فکر وکړئ چې په پايله کې يې څه پېښېداى شي؟ احتياط وکړئ چې چا ته ضرر و نه رسوئ." د هغه ملګرو د هغه خبرو په هلکه فکر وکړ او وېې ويل، "مونږ پښېمانه يو. سپی به زمونږ ملګرى هم وي."

# لارښودونکې پوښتنې

1. آیا تاسې یا ستاسې د کورنۍ یو غړی یو اهلي حیوان لرئ؟ که نه، آیا تاسې غواړئ چې یو اهلي حیوان ولرئ؟ ولې؟
2. آیا تاسې کله یو کوڅه ډب حیوان، یوه بې کوره پیشو یا سپی په کوڅه کې موندلی دی؟ کله چې تاسې دا ولید، څه مو وکړل؟
3. له ژوو سره تاوتریخوالی څه ته وایي؟ آیا تاسې کله څوک لیدلی دی چې له یوه حیوان سره ناوړه چلند کوي؟
4. کله چې تاسې یو ملګری وګورئ چې ژاړي، تاسې څه کوئ؟
5. د یو وضعیت په اړه فکر وکړئ چې پکې تاسې یو چا ته، چې تاسې پې پېژنئ، نامناسبې خبرې کړي یا مو ورسره نامناسب چلند کړی؟ څه وشول، او تاسې د بخښنې غوښتلو لپاره څه وکړل؟